نژاو عده ای از بهترین جنگ آزمایان تورانی را باخود به میدان جنگ برد و با دیدن بهرام صدا زد که ای مرد! تو چند تن از بهترین مردان جنگی ما را کشتی بدان که اجلت رسیده واز دست ما جان بدر نخواهی برد:

سبدو گفت ازین لشکر نامدار

رهائی نیابی درین کارزار

سران را بریدی سرآید بمان
که آمد که بر تو سرآید زمان

نژاو به همراهان خود دستور داد که با همه سلاحهای دست داشته بر بهرام حمله کنند. بهرام باز تیر و کمان بر دست گرفت و تا آخرین تیری که داشت بسوی دشمن افگند. آنگاه دست به نیزه برد و آنقدر جنگید، تا نیزه اش شکست. پس از آن گرز را بدست گرفت و تا میتوانست با گرز و خنجر جنگیدن گرفت، اما زخم بسیار برداشته بود و تنش بسوی سستی میرفت:

چو زخمش بدینگونه پیوسته شد
ز تیر دلیران تنش خسته شد

نژاو دریافت که بهرام بر اثر ضربات بسیار و زخمهای که برداشته، دیگر آن توانائی قبلی را ندارد، آهسته پس پشت او آمد و از پشت سر شمشیر را بر شانهٔ او فرود آورد. بهرام بر زمی افتاد و یک دست او از تنش جدا شد:

جدا شد ز تن دست خنجر گذار
فروماند از جنگ و برگشت کار

نژاو از کار ناجوانمردانه‌ای که کرده بود سخت شرمسار شد و از غایت شرمندگی نخواست بر هیکل خون آلود بهرام ببیند.

خورشید هنوز جامهٔ پیروزه گون بر تن نکرده بود که گیو برادر بهرام که تاآن لحظه در انتظار برادر بود، با تشویش و نگرانی بسیار به فرزندش بیژن گفت: بیا باهم به میدان جنگ برویم-

نزد سپهسالار پیران بردند و باد ر دوداغ از ماجرا یاد کردند و گفتند که تاکنون به شجاعت و مهارت جنگی کسی چون بهرام ندیده اند.

حو بشنید پیران غمی گشت سخت
بلرزید برسان شاخ درخت

سپهسالار پیر خود از جا برخاست و با جمعی از همراهان خود سوار بر اسپ بجانب رزمگاه روی نهاد و همینکه چشمش بر بهرام افتاد با ملایمت و صمیمیت ولحن گرم جویای احوال شد وگفت:
یادت هست بهرام؟ در روزگاریکه سیاوش که روانش شاد باد، از جیحون گذشت و به توران آمد، تو با او بودی و چه روزها که با هم نشستیم و خاستیم و با هم نان و نمک خوردیم. امروز چرا درین میدان خونین اینگونه لجبازانه به پیکار ایستاده ای؟ می ترسم که مبادا با این مردانگی و جوانی وخردمندی سرت را بباد دهی:

نباید با این نژاد وگهر
بدین شیرمردی و چندین هنر
ز بالا بخاک اندر آید سرت
بگرید به تو دوده و کشورت

نژ ای بهرام اگر دست از مقاومت برداری ونزد ما بیائی به خداوند جهان سوگند می خورم که جز دوستی و صمیمیت ومهربانی از من نخواهی دید. حتی حاضرم با تو خویشی کنم و ترا با دامادی خود مفتخر سازم تا دیگر کدورتی میان من و تو نماند. گذشته ازین تو یک نفر بلیای پیاده از چنگ این همه سواران نبرد آزمائی چگونه جان سالم بدر می بری؟

و ببینم که چرا بهرام تا کنون بر نگشته است، مبادا حادثهٔ بدی روی نداده باشد.

هر دو جنگجو به نبردگاه آمدند و در جستجوی بهرام همه جا را گشتند تا آنکه بهرام را میان خاک و خون افتاده دیدند در حالیکه دستش از تنش جدا شده بود و پهلوان جوان آخرین ساعات زندگی اش را می گذراند. گیو با دیدن او از اسپ فرو آمد و فریاد بر آورد، گریه کنان به کنار برادر آمد. بهرام را از میان خون و خاک با توانی با صدائی که پیدا بود بزودی نبردگاه و نبرد را برای همیشه پدرود خواهد گفت ماجرای دوشینه را به برادر خود گفت و از ناجوانمردی نژاو با او حکایت کرد. گیو در حالیکه می گریست سوگند خورد به دادگر یکتا و به شب سیاه و روز روشن سوگند یاد کرد که تا انتقام برادر را نگرفته است جامهٔ جنگ را از تن بیرون نکند:

به دادار دارنده سوگند خورد
به روز سپید و شب لاژورد
که جز ترگ روی نبیند سرم
مگر کین بهرام سازان اورم

آنگاه شمشیری بدست گرفت و سوار بر اسپ در محلی که طلایهٔ «گزمه» سپاه دشمن از آنجا می گذشت و نژاو معمولاً با طلایهٔ همراه می بود در انتظار نشست، تا اینکه دشمن بی آنکه متوجه او شود از کنار کمینگاه او گذشت و نژاو که بر اسپ سوار

برد آهسته - آهسته از عقب طلایه میرفت. گیو همینکه مطمئن شد که همراهان نژاو به اندازهٔ کافی از او دور شده اند، با شتاب و مهارت افتراک اسپ (پشت زین) کمند را گرفت و بجانب نژاو افگند. کمند بدور کمر نژاو بپیچید. گیو سر دیگر کمند را به سرعت بدور ران خود بپیچید و اسپ را به حرکت درآورد. نژاو از پشت اسپ بر زمین افتاد. آنوقت گیو از اسپ پیاده شد هردو - دست نژاو را محکم بست وخود دوباره سوار شد، اسپ را به تاختن آورد. به همان سرعتی که گیو اسپ می راند نژاو در عقب او در حالیکه با کمند بسته بود بروی خاک کشانده میشد. نژاو مثل هر نامرد دیگری که هنگامی زورمندی جفاجوی و ستمگری است و در ناتوانی مذبوحانه عذر می آورد بنای نوحه و زاری گذاشت و از گیو التماس کرد که به او رحم کند، او گناهی ندارد، چرا از میان اینهمه مردم او را برای چنین کاری انتخاب کرده است؟ اما گیو که از خشم وغصه به دیوانگی میماند به او گفت که حالا خواهی دانست که چه کردی؟

ندانی همی آبد شور بخت

که در باغ کین تازه کشتی درخت

که بالاش با چرخ همسر شود

تنش خون خورد بارخنجر شود

تو ای نژاو سیه روی بدان که جزای خیانتی را که در حق بهرام کرده ای خواهی دید. نژاو زاری کرد که من این کار-

را نکرده ام ، وقتی من می رسیدم دیگران اورا کشته بودند. گیوکش کشان او را تا محلی آورد که بهرام بخاک افتاده بود و بالحن دردمند خطاب به بهرام که در لحظه پدرود گفتن با زندگی بود گفت : اینک آن ناجوانمردی را که ترا به این روز افگند، آوردم تا به قصاص خون تو سر بی بهایش را از تنش بردارم :

سپاس از جهان آفرین کردگار
که چندان زمان بودم از روزگار
که پیش از تو جان بداندیش تو
برآیم کنون از تنش پیش تو

نژاو زاری خواهشگری میکرد و میگفت تقدیر این طور رفته بود که چنین کاری شود ، حالا اگر مرا بکشی چه فایده دارد؟ نژاو در برابر بهرام خود را بخاک افگند و گریه کنان خواهش و درخواست بخشایش و عفو کرد تا او را ببخشد و از خون او بگذرد

بهرام که با زحمت میتوانست سخن بگوید رو به برادرش گیو کرد و گفت :

هر کس که بد نیامی آید یک روز به کام مرگ میرود، نژاو ناجوانمردانه مرا کشت ، اما تو ای برادر از خون او بگذر و بگذار تا زنده است سرپر گناهش خاطرهٔ ناجوانمردی اش را در حق من بیاد او آورد.

سرپر گناهش بگذار زتن ٭ مرا تا کند در جهان یاد من

گیو که دید چراغ زندگی برادرش در میان طوفانی از خون رو به خاموشی میرود، خروشی بلند برکشید و دست به شمشیر برد، سر از تن نژاو ناجوانمرد جدا کرد.

بهرام که در واپسین دم زندگی شاهد این صحنهٔ عبرت خیز بود در همان لحظه جان داد. گیو و بیژن با دیدن درگذشت بهرام خاک برسر کردند و به تلخی گریستند. آن گاه جسد بهرام را بر اسپ نهاده به سپاه آریانا رسانیدند و به رسم آن زمان بر تنش جامهٔ حریر کردند و بر تخت عاج نشانیده تاجی بالای سرش آویختند و او را در دخمهٔ شاهانه‌ای که آگنده به مشک و عنبر بود گذاشتند و در دخمه را با نقش و نگار آراستند:

در دخمه کردند سرخ و کبود
تو گفتی که بهرام هرگز نبود

اسدالله غضنفر

درې سبقه

په ولسوالۍ کې د ګوند منشي او بالکي يې سره مهال بازار ته راوتلي وو. منشي غوښتل چې هم له خلکو سره اړيکې پيدا کړي او هم پښې وغوړوي. که څه هم څو مه هفته وه چې نه د ولسوالۍ په کلا ډزې شوې وې، او د سحر په څه مجاهدين دوکانونو ته ورغلي وو، خو بيا هم هغه صرف په هغه سحر له کلا څخه د وتلو اراده کړې وه.

منشي د چکر په دوران کې د سګرټو اخيستلو دپاره يوه دوکان ته ور وګرځېده. له دوکاندار سره د دوکان په څنګ يو سپين ږيرے هم ناست ؤ، چې په منشي يې د ور سره زلمي له کلاشينکوف او اطاعته شک راغی چې د حکومت معتبره سړی دی. منشي په غوږ، ټ سبه-له سپين ږيري سره دوه درې خبرې وکړې، خو د سپين ږيري چې زړه ډېر پړسېدلی ؤ، دوی او روسانو ته يې ډېر بد رد-وويل او حتی يو ځل يې د ګرېوان تنۍ خلاصې کړې چې ولاړ به ټوپک مې ولګی، تر دې ژوند خو مرګ ښه دی » بالکي يې په قهر شو

تندی یې تریو کړ، خو شه یې ځکه ونه ویل چې منشي د ډېرې نرمۍ خبرې کولې.

منشي سپین ږیري ته وویل: «بابا! ته زموږ مشر یې، ته زموږ سپین ږیری یې، تاسو باید موږ ته لار وښایاست، دا خبره سمه ده چې موږ سهوې کړې دي، موږ غلطۍ کړې دي، موږ اشتباهات کړي دي، اما تاسې باید ...»، خو سپین ږیری نه بس کېد او اخیرالامر منشي ځني په خندا-خندا خدای پاماني واخیسته، او روهي شو.

په لاره بانډې بالکي ورته وویل: منشي صاحب! ډېره زیاته حوصله دې ورته وکړه. منشي پر اوږه لاس ورکښېنود او په داسې انداز کې لکه څوک چې چا ته ډېره اهمه خبره وروزده کوي، ورته وویل: موږ باید له انقلابي تواضع کار واخلو! انقلابي تواضع له موږه غواړي چې باید هره سخته په ځان تېره کړو، څو وکولای شو د انقلاب اصلي ماهیت خلکو ته ور وپېژنو!....

ځلمي د منشي خبرې په دقت واورېدې، خو پوره یې زړه ته ونه لوېدې او دا یې هم د منشي په روحي کمزورتیا پورې وتړلې.

شپې او ورځې همدارنګه بې ږږ و ډوزه تېرېدلې، منشي خلکو ته ضرر نه رساوه او مجاهدینو هم نه غوښتل چې پخپله عیاشۍ کې لاهو منشي د جنګ او جګړې دنیا ته راوباسي. په او لسوالۍ کې کرارۍ ورځ په ورځ دومره ډېرېده چې که له پوره ته په هوا تېرېدونکو جنګي الوتکو اواز نه راتلی، نو بیله سخنبه نه وه چې چا ته به یې د غلګ وریاد کړي وای.

مګر دا کرار یې د سلګونو ټینګونو او عسکري موټرو هجوم په
څو شپو کې تالا والا کړه. د اولسوالۍ په بازار کې د قوي تر رسېدو
د مخه دوکاندارانو دوکانونه وتړل، مجاهدینو خپل ځانونه سمبال کړل
او نورو خلکو د همېشه په څېر په مجهول سرنوشت ځان وسپاره.

روسي قوه په هغه شپه د اولسوالۍ له کلا سره تم شوه، سبا ته
د کلیو محاصره او تالاشي شروع شوه. له روسي عسکرو سره به منشي
او بالکي غبرګ ګرځېدل. دوی دواړو د راه بلد او راهنما حیثیت
درلود او حتی کولی یې شول له مرګه خلک وژغوري. منشي او
بالکي به دوه شپې او ورځې خوب او خوراک په ځانونو حرام کړی و،
په دې دوو شپو او ورځو کې منشي ډېر قهرجن او بې حوصلې شو. دوه
درې ځایه یې کلیوال په برچو ووهل، او یو ځل یې یوه زړه ښځه
چې عذر یې ورته کاوه چې درې سره زامن یې عسکرو ته مه بیایاست،
د کلاشینکوف په کونداغ په خوله دومره کلکه ووهله چې درې څلور
غاښونه یې ووتل.

له نیونو او پلټنو وروسته چې دوی له قوې سره د اولسوالۍ کلا
ته راستانه شول او بالکي ته د منشي اعصاب آرام معلوم شول، نو هغه
ته یې وویل: زه فکر کوم چې د هغې ښځې وهل ښه نه وو.. منشي
خبره ورغوڅه کړه ویې ویل: ته ا نه! باید انقلابي بې خوږده وسره
وشي. زلمي وویل: انقلابي چال چلند خو په هر حال کې پکار دی
خو زما مطلب دا و چې داسې اعمال زموږ د دښمنانو د ناوړه
تبلیغاتو له پاره لاره هواروي. منشي د دې د پاره چې هغه خپلو-

خبرو ته سم متوجه کړي هغه تر مړوند ونيوه او بيايې په خبرو پيل وکړ: ته چرت مه خرابوه! د دښمنانو هيڅ هم په وس کې نه دي ... د انقلاب طوفان په مخ روان دی ... د تاريخ څرخونه څوک په شا نشي اړولی ... ته يې غمه اوسه نه دا زړی هم درباندې کوم چې د دوستو قواو يوه برخه په اولسوالۍ کې پاتې کېږي، نو ر به هغه پخوانی حالت نه وي ... اوس به مونږ داسې نه يو چې له کلا نه به بهر نه شو راوتلای. اوس به په تېزۍ سره دې ګړنې حاکميت د تحکيم له پاره کار کوو او پرمخ به ځو. دې وروسته خبرې د زلمي زړه پراوه کړه او د نورو خبرو ضرورت يې محسوس نه کړ.

روسانو د اولسوالۍ کلا ته له راستنيدو سره سم د مورچلونو په جوړولو او د ټانکونو په ښخولو او ځای پرځای کولو لاس پورې کړ. وروسته له دې به کلا بند شوي پرچميان حتی ماښګرمهال هم په مبارزکې ګرځېدل او کوښښ به يې کاوه چې د خاد "شبکو ته په کليو کې لاره پيدا کړي.

روسي قوې پوره دوې هفتې په بېغمۍ سره تېرې کړې، خو د درېمه هفته يې يوه شپه هم په کرارۍ سبا نه کړه. مجاهدينو چې د نورو سيمو د غازيانو له کومکي ګروپونو سره راستانه شوي وو دېر بد حال پاندې راووست او اخر خبره دې ته راورسېده چې يو ورځ د سهار په څېره کې قوه بېرته خپل مرکز ته ستنه شوه.

منشي، بالکل او نور پرچميان چې د ټانکونو په څرهار راوينس—

شول او په کیسه یې سرخلاص شو، نو سخت وارخطا شول، خو له پېښې تنبسته نه وه، د کلا دروازه یې وتړله او منشي له مرکز د مخابرې په واسطه د نورې قوې غوښتنه وکړه. د مرکز د مثبت ځواب په انتظار په کلا والو ماښام شو.

ماخوستن مهال مجاهدینو بیا په کلا یرغل وروړ. مجاهدین چې د قوې ستنېدو لا زړه ورکړی او د پلټنې په وخت د منشي اعمالو په قهر کړي وو، ډېر سخت وجنګېدل او وروسته له یونیم ساعته جګړې یې د کلا اکثره ساتونکي تسلیم کړل.

کلا له ځلوروخواوو د مجاهدینو تر اور لاندې وه، مګر بیا هم منشي نه تسلیمېده.

هغه او بالکي یې په یوه برج کې مورچه نیولې وه او په داسې حال کې چې له مرکزه یې مرسته غوښته، په مجاهدینو ډزې کولې.

خو یو وخت چې له بارو نه د ډک د یګ بخار د چاودنې په اثر د کلا جنوبي دېوال راپرېوت، نو د منشي له لاسه ټوپک ولوېد، ټول بدن یې په رېږدېدا پیل وکړ او په داسې حال کې چې مخابره یې لا په لاس پورې ټینګه نیولې وه، خپل بالکي ته وویل: شاباس! شاباس! ډزې وکړه! له انقلابي شهامته کار واخله!

شېبه وروسته د منشي ژبه هم تړه تړه غوندې شوه، په ماته کړېده ژبه یې بالکي ته لا ویل چې شا- شا... شاباس.. لله... له ...ان... ان.. قلابي... شش- شهامت ته (دان... قلابي... ...) . د زلمي په ژړ کې نوځري ور تېر شول او هم د دې لپاره چې مجاهدینو ته ځان سرخروی کړي، نو په منشي یې د کلا شینکوف خوله راواړوله!!

خاطره

سږ کال کندهار د پخوا په څېر د جنګ د اور د لمبو سور تنور ؤ،
چې غرمه به تېره شوه ، د ټوپکو، ماشینګڼو، توپو او بمونو خولې
به وازې شوې او بیا به تر صادقه سهاره پورې نه چوپېدلې.
له پاسه به په جوالو- جوالو باروت او کیمیاوي مواد چې ځمونږ
د نړۍ د معاصر جهالت د مرګ په ډېرو پرمختللو ابزارو بدل کړي
وو ، د کندهار د تاکستانونو پر شنو میدانونو راپرېوتل.
داورونو او دودونو شنې لوخړې به یې د شنه آسمان په لور -
پورته کړې.

شین او زرغون کندهار چې تر جنګ د مخه ګلونو به یې د
کوډګر او جادوګر طبیعت ساحرې ننداری وړاندې کولې او-
اوس په یوه سوځوونکي جهنم بدل شوی ؤ ، هره خوا تورې
کنډوالې ، سوځل شوي کورونه ، لوټ شوي بڼ اوونه، ړېږېدلي
چمنونه چې د جنګ دوړ وړې شنه جوړه ، له غولي ټوله کړې وه
له نظره تېرېدل.

غلام آغا چې اصل نوم یې غلام محمّد ؤ، یو او یا کاله
پخوا د همدغه کندهار د سرپوزې په منطقه کې زېږېدلی ؤ،

د غلام کاکا په قول د ده د زړو زمانه هم د هيواد له لمسي څخه د شين سترګو مهاجمينو د شړلو زمانه وه.

د غلام کاکا د هغه وخت غزاګانې نه وې په ياد، خو دومره- ضرور ورته معلومه وه چې پلار، دوه ورونه او درې کاکاګان يې د بولدک په محاذ کې د شين سترګو مهاجمينو او کفارو پر ضد هم غازيان شوي وو او هم شهيدان شوي.

غلام کاکا د مور له خولې کيسه کوله چې زه به هغه وخت کې وم د دوو- درېوو کلونو، مور فقيرې مې راته ويل چې تانه تانه مې لا تي پر بکړۍ وې چې د غزا کال شروع شو.

مور مې ويل چې غزا د ملايانو صاحبانو په امر چې دا امر يې هم د خداى تعالىٰ له کتابه راخيستى و، پر ټولو نرانو او زنانو فرض شوې وه، په ځان او مال سره او په هر شي سره.

ملايانو صاحبانو جاري کړ امر د شريعت محمدي او شروع شوه غزا په ټول کندهار کې او په ټول افغانستان کې.

مور فقيرې مې ويل چې زموږ د کور غټان چې پوره ټوله کوړۍ يې سوای ټوپک او راغوړځولای يې سوای کافر او ملحد او ظالم او فرنګي وژلي و غزا ته. او شهيدان سول پر وطن اوس يې هم قبرونه شته چې شناختي يې د هغه وخت له کيسو، عبرتونو او سربندونو څخه يادګاري کوي.

غلام اکا لږ څه خيلې عمرخوړلی او بې سره وخندل پر سپينه ږيره يې لاس راتېر کړ او بيا يې د سپين پاچا او بده-

شمله شاته وهله، لکه چې د ميوند په لوړو وبوله، په داسې
حال کې چې د ميوند لويې هديرې ته يې اشاره کوله، يو سوړ
اسويلی وکيښ او ويې ويل:

گوره بچيه! په هغه لويه هديره کې ډېر غازيان او
شهيدان ښخ دي، دغو غازيانو خپل خوږ ځانونه
فقط د دې له پاره قربان کړي دي چې د الله تعالی تر
حکم لاندې مونږ ژوند وکړو، ناموس او عزت مو له
کافرانو او شيطانانو څخه په امان وي.
دا خاوره د خدای تعالی خاوره ده - دلته دې د خدای(ج)
بندگان د خدای پاک امر مني نه د بل چا.

غلام کاکا ويل چې که انسان ايمان ونه لري هغه بيا
آزادۍ ته هم ضرورت نه لري. مونږ د دې له پاره خپله
آزادي غواړو چې ايمان لرو. اصل خو هم دا ايمان دی
چې مونږ ته د آزادۍ درس راکوي، د بې ايمانو په آزادۍ
څه؟

غلام کاکا د جهاد له پيل څخه تر اوسه پورې جهاد نه دی
پرېښی. ده ځانته د «مجاهدزاده» نوم غوره کړی و.
د منطقې د نورو سپين ږيرو په قول د ده پلار سيد محمد غازي
د کشکي نخود د لښکر مشر و او په جنگ کې يې مېړانه کړې وه
اوس يې هم قبر د غازي سيد په نوم شته او د شناختې
جنډه يې د غزا او جهاد بيرغ دی چې ځينې بېرېږي کافران -

او ملحدان او سره چینه ده د کرامت. د قبر خوره ده یې بې نوره خلک په نوره ورتوب راولي.

مجاهدین او هم چې کله د بولدک له لارې د هوایي میدان په سر عملیات کوي د سید غازي بابا قبر ته حاضرېږي او هلته له خدای (ج) څخه په دُعا کې نصرت غواړي.

غلام کاکا کیسه کوله، ویل یې چې نور مامد کافر (نور محمد تره کی) د بخارا د شین سترګو قاتلانو جاسوس پاچاګردي شروع کړه، په کندهار کې غزا نه وه، زه لاړم ارغستان ته او هلته مې جهاد شروع کړ. تر اوسه پورې مې غزا ئه ده پرېښې، کله چې په کندهار کې غزا شروع شوه، خپل څلور ځوانان زامن مې له کوره راویستل په محله جات کې مې سترګې په رنځو ودتورې کړې، څو پکونه مې ور په اوږه کړل، د اوبو پټکي مې ترملا وروتړل اوبیا مې اودس تازه کړ او څلور رکعته نفل لمونځ مې وکړ مخ مې قبله مې خدای تعالیٰ ته سجده وکړه، ما ویل ای پروردګاره! زه ستا ګنهګار بنده یم، تا پرما رحم وکړه نن دا براهیم خلیل الله سنت پرځای کوم، خپل څلور زامن ستا د رضا په نوم د اسمعیل ذبیح الله په څېر قرباني کوم، خدایه! زما دغه قرباني قبوله او منظوره وګرځوې خدایه! زما په نیت کې نور هم اخلاص پیدا کړې. د غلام اکا سترګې له اوښکو ډکې شوې.

د غنې کندهارۍ واسکټ له کینې جیب څخه یې یو سور بادامګلی دستمال راوکیښ او خپلو اوښلنو سترګو ته یې ونیو.

هغه شپه ساعت چې پاتې وه بیا یې له جیبه د تورو نسوارو ډک کډو (۱) را ویوست، د ورغوي په منځ کې یې لږ څه تور نسوار په ډېره خاصه سلیقه واچول او د دوو ګوتو په مینځ کې یې لږ نسوار پورته کړل، د پوزې په ښي سوړمه کې یې وسومل چې کډو ته یې وکتل احساسات یې زیږه شول لکه چې کومه خاطره ور ته یاده شوې وي.

هغه ته د کډو په لیدلو د یوه مجاهد خاطره ور یاده شوه د غلام کاکا په جیب کې سور کډو، هغه ته له نن څخه اووه کاله وړاندې ملا راکېټ اُخند په دې خاطر ورکړی و، چې له شهادت څخه ورو وروسته به ما د همدې کډو په لید وسره یادوې د کډو پر ښا دا بیت لیکل شوی و:

د وصال ډیوه به مړه وي زه به خاورې
د اپه یاد د محبت ور سره واخله!

ما ته له هغه څخه د ملا راکېټ اخوند پوښتنه وکړه:

کاکا ملا راکېټ اخوند څوک و؟ کاکا په ډېره ویاړلې لهجه په خبرو پیل وکړ: ولې هغه نه پېژنې؟ ملا راکېټ اخند د کافرانو او روسیانو د ټانکونو په سر تندر و —

---

(۱) کډو: د نسوارو یو مخصوص ډبلی دی چې زاړه سپین ږیري پکې نسوار اچوي.

اول يې په بوتلانو تمانکونه سوځل، اول ځل يې د حرقې شريفې ترمخه د کفارو ډيره تمانکونه په بوتلو وسوځل، بيا يې سپه سرپوزنه کې دري تمانکونه وسوځل، بيا يې د کابل ــ دروازې د ګرمې تمانکونه وسوځل، او بيا چې را کيته پيداشو نو د خداى نصرت چې وي هر مشکل اسانيږي، سبب را کيته شو اومل د خداى (ج) نصرت، ملا راکيته په يوه را کيته ځلور شلې (۸۰) تمانکونه وسوځل.

کاکا ملا راکيته اوس هم شته؟

نه هغه د خداى (ج) د محبت لايق شو، هغه زما له ځلور ګلاله سره يو ځاى شهيد شو. هغه به اوس د حورو اوغلمانو په منځ کې ګرځي، پر هغو د خداى (ج) رحمت وو.

کاکا ته د ځلورو شهيدانو پلار يې؟

هو! دا هم د خداى (ج) رحمت دى! د خداى (ج) لورينه ده، زه ګنهګاريې هم د ځلورو شهيدانو پلار ګرځيدلى يم.

غلام اکا تلوار او بيره کوله ويل يې چې ځم محله جات ته، هلته ډير مجاهدين سره راټول شوي دي که مې نور ــ وس او سيکه نشته پر شهيدانو خو به يې د يا سين شريف تلاوت وکړم.

کاکا له ما څخه رخصت واخيست، تر رخصتيدو وړاندې مخکې ماورته وويل:

غازي کاکا! زه ستا له مجلس څخه سخت خوشاله شوم، له تا-سره قول کوم چې ستا د کارنامو او د داستان به د ډوند داغز تې لارې سر مشق گرځوم. ته به هیڅکله هم زما هېر نشې. د غلام کاکا په شونډو هم د خوشالۍ مسکا خوره شوه، په خندا شو.

هغه پوښتنه را څخه وکړه؟ لږ که دې هېر شوم؟

ما ورته وویل: نه مې هېرېږې، څه! دا شپې د شپې په توگه د درس واخله که دې هېر شوم نو یا دونه به مې ښه ده!

ما ورته وویل: هو! ښه ده.

ما شپې را واخیستلې او را روان شوم.

کال تېر شو، یو ځل بیا پسرلی را ورسېد، کندهار لا-هماغسې سوگوار و، نو تل ښار د اورونو او بمونو باران و، د ښنو تاکستانونو له منو څخه هماغسې تورلوگي پورته کېدل.

مجاهدینو سږکال د کندهار په ځلیرویشتو محاذونو کې د انگریزانو له تربورانو شین سترگو روسانو سره غزا درلوده.

سږکال جبهې ته له رسېدو سره سم د غلام کاکا دوی ځای ته حاضر شوم، غلام کاکا نه و.

اوس نو د هغه پر قبر د چنار یوه لوړه شنا خته —

ولاړه وه.

هو کې!

غلام کاکا شهید شوی ؤ. د مجاهدینو د مجاهد دلاري په سفر کې خپل تا کلي مرام ته رسېدلی ؤ.

ماهما غه تسپې له جیبه راوا یستی او بیا مې په غوږ وکې.

پر د بلې باندې لیکل شوی بیت زمزمې ا نګانه شروع کړه؛

دا بیت چې:

دوصال شپه به مرم وي نه به خاورې
دا په یاد د محبت در سره واخله!

ابوامان

پرسور غربل راته ننوردی

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې سره اوښتې ده، ځمکه راخلې ده، دا ځکه چې دې خاورې حساس جغرافیوي موقعیت درلود، دلویدیځ له خوا راغلو یرغلګروته یې د هند دروازې بڼه درلوده او د ختیځ ـ له خوا راخپرو شویو تېریکوونکو ته د ایران او خلیج دلاندې کولو غابنی او معبر و. دې حساس جغرافیوي موقعیت په ټول تاریخ کې دا خاوره ناآرامه ساتلې او تل یې د وخت سورمخي او ثړمخي سنګلاکګر هڅولي چې د دې خاورې په حریم تېری وکړي، خو د خدای (ج) په مرسته او د دې خاورې د مېړنو زامنو د غیرت او مېړانې له امله ټول سورمخي، ثړمخي او بدمخي یرغلګر تورمخي شوي، مات شوي او په تښتو شوي دي.

او ومه او اتمه پېړۍ په آسیا کې د مغلو د تاړاکونو، ورانیو او وحشت پېړۍ ده، دا وخت چنګیز او د ده اخلافو د افغانستان مخ ښارونه لکه بلخ، هرات او نور ولات او د دې ښارونو اوسېدونکي یې قتل عام کړل. په همدې تېریو او قتل عامونو کې د زابل تاریخي سیمه هم شامله وه، د چنګیز اخلافو د دې سیمې په استوګنو وحشیانه او خونړۍ حملې وکړې او ډېر ځاني او مالي تاوانونه یې واړول، خو دې

سیمو او سیدونکو هم میړنۍ مقابله وکړه، تر دې چې لښ او بې قوته شول. په همدې نښته کې مشهور نیکه بابا هوتک هم برخه درلوده دوه ولیدل چې افغانې ځوانان مړه او لښ شول او نژ دې وه چې په لښکر ماته وکړه شي، د سره غږه یې لمنو کې سرې وینې روانې وې همدا وخت یې خپله دغه تاریخي حماسه وویله:

پېړ سور غر بل راته نن اوری
وګړ یه حیوپ راته پیغور دی
پېر کلي کور باندې مُغل راغی
هم په غزني هم په کابل راغی

* * *

غښتلیو ننګ کړئ دا مو وار دی
مُغل راغلی په تلوار دی
په پښتونخوا کې یې ناتار دی
پېر کلي کور باندې مغل راغی

* * *

آ! د مرغو غښتلیو راسئ
پر ننګ ولاړ د پښتونخوا سئ
تورې تېرې غشي ترملا سئ
پر کلي کور باندې مُغل راغی

* * *

زلمو په عشق کړئ وارونه
د تېرو تورو ګوزارونه
ورو ورباندې کړئ خپل تېرونه
پر کلي کور باندې مُغل راغی

* * *

زما د زلمو وينې بهېږي
ځمکه او غرونه يې سره کېږي
مېرځي زغلي او ستړي هېږي
پر کلي کور باندې مُغل راغی

* * *

پښتنو هلئ سپر غږه جنګ دی
سوړ غر په وينو د دوی رنګ دی
مهال د توري دی، د ننګ دی
پر کلي کور باندې مغل راغی

* * *

زلمو پر ننګ ځانونه مړه کړئ
د سېمې په عشق مو پېيه کړئ
د پښتونخوا ځمکې ساته کړئ
پر کلي کور باندې مغل راغی

* * *

هوا مغلانو تېری نه کوي، تجاوز نه کوي، جنګ نه کوي، خو ننګ کوي، خپل حریم ساتي او د تسلیم او ماتې نوم نه پېژني. د هوتک بابا د ننګ له دې غږ سره هر ځوان لکه زمری پر دښمن حملې پیل کړې، له دوی څخه یې ډېر ووژل او سور غر یې د غونډ د مغلو په وینو داسې سور شو چې د لمر وړانګو به دا غر برېښانده کړ او د هوتک بابا دې غږ به د غره تر وکې تر لیرو لیرو انګازې کولې:

«پر سور غر بل راته نن اور دی!»

نن بیا هم همغه ورځ ده، پر سور غر بیا هم اور بل دی، د ظلم عصر چنګیزیان زموږ په خاوره راخواره شوي دي، ستر چنګیزیانو یې وحشت هم پر مخ تګ کړی، ځکه هغوی به په غشیو او تورو خلک وژل او د عامو وژنو وسایل محدود وو، خو دا وحشیان د انسان وژنې او قتل عام له پاره د وخت د ډېرو مدرنو او پرمختللیو وسلو نه کار اخلي او تمدن یې د وحشت خدمت ته ګومارلی دی، دوی توپونه او هاوانونه هم ولي، کلاشینکوف او ماشیندارې هم چلوي، الوتکې یې هم بمونه او بمبارۍ کوي او کیمیاوي وسلې هم. د دوی په وحشت د ماشومانو، سپین ږیرو او ښځو وژنه هم روا او روانه ده، او د ټوپکو توغولې نښې نښانې له منځه وړل غواړي.

خو افغاني زلمیان د تاریخ په حکم، د مشرانو د میراث په توګه او د خپل ننګ او غیرت له مخې دا وحشت زغملی نه، دې وحشت ته -

تسلیمېږي نه او د خپل د ننګ رسالت په مینه او مېړانه تر سره کوي او له همدې کبله نن بیا هم پر سوړ غږ اور بل دی، او د مرغۍ غښتلي ورسره په جنګ بوخت دي، د سره غره لمنې بیا هم د دښمن په وینو لړلې شوې او د اسلوړي غږ د آزادۍ سرلوړي ته ونډه کوي او نامن یې د خپل ننګ او مېړانې له کبله خپلواکي لري، خپلواکي ساتي او د خپلواکۍ له پاره جنګېږي او د بري تر پړاوه د ننګ د دې جنګ د پرمخ بېولو هوډ لري او ګروهمن دي چې:

د وطن په سر له سره تېرېدل
د هېواد په مینه وینې توېدل
د تاریخ د مېړنیو ننګ ساتل
خپلواکۍ ته سره ډولۍ تیارول
سرلوړي ده، ویاړ دی، فخر دی، عزت دی
په تاریخ کې جاوېدانه نوم ګټل

* * *

د پردیو په تېرو تورو ورتلل
په ټانکونو، په توپونو ورختل
د ګولیو په باران ور ګډېدل
د بمونو په اورونو کې لمبل
د وطن ننګ او ناموس پر ځای کول دي
د وطن په لار سرونه جارول

«پای»

* * *

د موسى محمد ليكنه او څېړنه

په پښتو لنډيو كې

د مېړنتوب او سرښندنې

ځفتونه

پښتو لنډۍ د زمونږ د عامیانه وګړني ادب هغه ارزښتمنه پانګه ده چې له پېړيو - پېړيو راپدې خوا يې د نړۍ د نورو ټولو په پرتله پښتو ادب ته ځانګړی رنګ او ځلانده ګاڼه ښلی دی، او له پېړيو - پېړيو راهیسې يې زمونږ د اولس د درنو خپلونو او ټبرونو د غما و خوښۍ محفلونه او مجلسونه ګرم ساتلي دي او زمونږ د عوامو د ټولنیز ژوندانه اصلي بڼه يې تر ډېره ښه انځور کړې ده.

زمونږ د کليوالو د مېړانو، سرښندنو، ځان تېرېدنو، هیلو امیدونو او هوسونو سندرې يې په خاص او ځانګړي رنګ کې رنګولې دي او د وختونو له دوړو يې پښت مونږ ته پوره په سالمه جوله کې را-رسولي دي او له مونږ څخه به يې د سبا ورځې نسلونو ته د خپل تاریخي امين خصلت له خوی او بوی سره يو ځای وړاندې کسېږي، او ګویا د نن ړان سباته او د سپا و ړڅې رنګ باڼې وړڅې او د بلې وړڅې پېښې به-

بلې ورځې ته سپاري .

او همدا رنگه د يوه ملت د ټولنيز ژوندانه د بېلابېلو پړاوونو اصلي بڼې او ځانگړې د وختونو او زمانو له معبرونو څخه د هستۍ ډگرونو ته لېږدوي او تداوم او پايښت ورېښي او دې ته يې نه پرېږدي چې د وختونو دوړې د زمان په بېلابېلو مرحلو کې د يوه ملت د ژوند، کلتور او فرهنگ پر اصلي بڼه د گمنامۍ دوړې پرې باسي .

مسلمان افغانان د آسيا په لويه وچه کې پنځه زره کلن ـ ژوندى تاريخ لري او دغه تاريخ د يوه ژوندي فرهنگ او کلتور تاريخ دى چې هيڅکله هم بهرنيو يرغلونو او بريدونو له منځه يونه وړلای شو، بلکې د هر تجاوز او يرغل په نتيجه کې يې ريښې د تاريخ ژورو ته وځغاستې او د خپل محکم موجوديت حاکمانه آثار يې ثابت کړه.

خدای پوهېږي په پښتو کې به د لنډۍ لومړى شاعر څوک وي او دا لنډۍ به د کوم او ښه او ښپانه د شپېلۍ (توليې) له نغمې سره په سندره کې غبرگه شوې وي، چا به د لنډيو ويل پيل کړي او څنگه به يې پيل کړې وي ؟

زموږ په معاصر تاريخ کې د لنډۍ د ژورې اغېزې او تأثير کيسه د ميوند د جنگ کيسه ده . د ميوند جنگ يوې قندهارۍ پېغلې (ملالۍ) د دې لنډۍ په بيه گټلى وچې :

«که په ميوند کې شهيد نه شوې * خدايږو لاليه بې ننگۍ ته دې ساتينه

همدغه لنډۍ وه چې د افغاني غازیانو په وینو کې یې د غیرتونو لمبې ورګډې کړې او افغاني کوتکونو برطانوي توپونه مات کړل – میوند فتح شو، او "ملاله" د تل له پاره د تاریخ په پاڼو کې د اتلولۍ بېلګه شوه، او د میوند د ډګر خاطره د همدې پورتنۍ لنډۍ په وجود کې ژوندۍ پاتې شوه.

افغاني عامیانه او وګړني ادب د افغانانو د ژوندانه او هېواد له خارجي دښمنانو او پردیو تاړاکګرانو او یرغلګرانو سره په یوه سنګاره تضاد کې سر راپورته کړی دی، او پر دین او وطن باندې یې سرښندنې او ځان ځارونې ته د ستاینې ترانې، نغمې او فن پارې وړاندې کړې دي.

مېړانه، ننګ، غیرت، حریت، وطن پالنه، سخا، مظلوم پالنه انسان دوستي، شرافت، عزت، حمیت، اصلیت، صداقت، انسانیت او انساني ښه خُلقت یې په داسې انداز ستایل شوي دي چې – بالکل طبیعي رنګ لري او ځانته بل ډول جوله او څېره.
او همدغه امتیاز دی چې افغاني عامیانه ادب یې د ژوند په ادب بدل کړی دی او موږ یې په اسانۍ سره کولای شو چې د دغه ادب په هنداره کې د ژوند درځونو، کړاوونو، او ستونزو جوړې او ښې په اصلي شکل وګورو او ورسره – ورسره د تخیل الوزګانو او آرمانونو بډوالو بهیرونو او کاروانونو نندارې هم وکړو.

اصلي موضوع پاتې شوه، زه غواړم له درنو لوستونکو سره په پښتو لنډیو کې د مېړنتوب او سرښندنې پر اوصافو وغږېږم –

چې په پښتو لنډيو کې يې زښته نايات مثالونه پيدا کيږي.

ما د مخه وويل چې د افغانانو هېوا داو فرهنګ تقريبًا د تاريخ په هره پېړۍ کې يو ځل نه، څو ځله د پردیو متجاوز او يرغل لاندې راغلی دی او په مقابل د دغه لوی او تاريخي هېواد د زړورو ځوانګړو او سپينږيرو، او د ډګروالو د تورو کېږديو او کليو او بانډو پېو ونډه ګان او کوچيان مجبور شوي دي چې د مچلو غزي، سيلاوي توري او ډانګ په وسيله متجاوز او يرغلګر دښمن له خپل حريم او کور-کلي څخه وشړي.

همدا پېښه ده په افغانستان کې بيا هم هماغسې د مغلو، انګريزانو ډير غلونو او تاراجونو په څېر د تاريخ پر صفحه را برسېره شوې ده او د کېږديو، خيمو، کالو او خونو ساده کليوال نن هم د تېرو جګړو په څېر په يوه روا جهاد کې قرباني ورکوي او د جهاد وړاندې تګ ته يې د آزادۍ او خپلواکۍ په آرمان د ويښو موج اړم کړی دی، او پر مخ يې بيايي.

دا ځل د افغانانو دښمنان شين سترګي روسان دي لکه چې يو وخت چې توارنيان وو. په داسې خاصو تاريخي حالاتو کې طبعًا د عاميانه ادب په سندرو وچپو کې د ميړنتوب او شهامت ستاينه ځوبن پيدا کوي او زمونږ د پېغلو غرور او لوړ شهامت چېرته هم د اسې منلای چې خولګۍ يې موږيګي وخوري، چې پر دين او وطن ننګ نه کوي او د خاورې او ناموس له پاره سر په تلي کې نه ږدي.

ښو ځکه وايي چې :

مين په خداى کې دې نصيب شم
پرې سې دې نښتې د تورو تورو واوره

زموږ په غيرتمنه او مؤمنه ټولنه کې مسلمانې او غيرتي ميرمنې د داسې سړي او ميړه څخه ډېر ونده له ملګرتوب څخه انکار کوي چې د جهاد او غزا وخت وي، د اسلامي امت پر مقدساتو د کفر سلطه او قبضه وي، او په داسې حال کې دې هم د ميړه سر روغ وي او پر هغه دې د تورو تورو وار ونه نه وي .
داسې ميړه ته مين ګي وايي او مؤمني ميرمني يې په مرګ ستر ګي نه توري :

د رنځو ګو ډي مې ساتلي
د مين ګي په مرګ به سترګي تورومه

خو په مقابل کې هغه ميړه او زلمي چې ځوند د عقيدې په ډنيا کې او مرګ د عقيدې له پاره غوره ي ، پر ناموس ننګ کوي، او پر دين غزا، او پر خيل کلي او کور له اغيار روسه جنګ کوي په ښنتو ښو او صافو ستايل شوي دي، حتى د دين او وطن د سياهي ، غازي او مجاهد په ټوپک وياړ او فخر کېږي ، ميړانه يې بيا - بيا ستايل کېږي :

ټو د ې بو ټه ټو پک دې جار شم
پر او ږه ستا دې کږه زه له خياله ځمه

* * *

او یا داچې:

ته په سنګر زړور خېژه
زه به اوبه په سالنګ درخېژومه

که مونږ په دې ټپیو لنډیو ته ځیر شو، نو دا به راته جوته شي چې په مؤمنو افغانۍ پېغلو کې د آزادۍ او خپلواکۍ روحیه څومره پیاوړې ده او څومره سوڅه او سپېڅلې

پر دښمن سمه وځه کوږ نشې
ما پر همزولو باندې ډېر خندلي دینه

يا:

په وینو رنګ توره دې راکړه
راشه په سرو شونډو دې نه درپاکه کړمه

يا:

سبا پر سپین بولدک غزا ده
تر خدای مې جار کړې شنه ځوانانو غزا ته ځینه

يا:

له خپله لاسه مې پرې مه کړې
چې ډز دې وشي زه په بام درو ختمه

او يا داچې:

جانان مې بیا جهاد ته درومي
په ګړنده کې به ځوندي ورله تړمه

* * *

پورته لنډۍ څنګه تخلیق شوې دي، او ولې تخلیق شوې دي؟
یوه افغانۍ مؤمنه پښځه خپل د ژوند ملګری د ګولۍ او کارتوس په ګوزار ټپي او ورو ستلی شي، خو د همزولو پېغور او د بې غیرتۍ داغ د خپل خاوند له پاره نشي زغملای. د بریا او کامیابۍ په وخت کې د دښمن په وینو سره توره په شونډو پاکوي او په دې توګه د مجاهد زلمي د تشویق او ترغیب له پاره لنډۍ تخلیقوي او د دښمن په وینو یې خوا یخېږي، د الله تعالی شکر کوي چې په روا لاره کې خیالي ځوانان د غزا ډګرونو ته ځي او خپله وینه د خپلې ټولنې د بقا او ژوند په آرمان د تاریخ رګونو ته تزریقوي، خو امنا له غلامۍ، امنا له ذلته او توبه له بې غیرتۍ، او بې هویتۍ.
زلمی د خپل ژوند ملګرې له پېغوره دارېږي، خو د ټوپک له خونکارۍ او جلادۍ څخه نه ویرېږي، نو ځکه خو یې محبوبه خپل ځان مسؤل بولي او وایي چې:

له خپله لاسه مې پرې مړ کړې
چې ته ژوندی وشوې زه به په بام درختمه

یا:

جانان مې بیا جهاد ته درومي
په ګڼ د [illegible] به څو سړي ورله ټومبمه

دا پورته لنډۍ ما د زابل په شاجوی کې اورېدلې وه او په هماغه ساعت یې دومره تاثیر را باندې وکړ چې په رګ - رګ کې مې -

د دغه اولسي نادرې ادبي لنډۍ اثرات و ځغستل چې تر اوسه پورې یې له اثر څخه نه یم خلاص شوی.

که موږ د پورتنۍ لنډۍ ساده او کلیوال تصویر ته ځیر شو نو راته به جوته شي چې د دغه تصویر او عکس داسې عکس دی چې هیڅ انځورګر او میناتوریې مقابله نشي کولای او هیڅ شاعر یې د تخلیق ځواک او صلاحیت نه لري.

دا لنډۍ چا تخلیق کړې، چا د ګل د لپه دغه ارت سوبه پوهېږو کې ساده کلیوال ځونډي وتومبل او چا په دغو ځونډیو باندې د روسي سنګلاک په خلاف د مقابله کوونکي افغانې لمبې ملا ښایسته او خیالي ګره کړه.

— معلومه ده چې د افغاني ټولنې د مېړنتوب پالونکی ادب — طبیعي مسیر او ژوندي خوځښت.

د هر ملت ژوند د هغه ملت د روایاتو، کلتور، فرهنګ، — کلچر او عنعناتو تر ژوند پورې اړه پیدا کوي، او د هر ملت د ژوند انځور یوازې او یوازې د هغه ملت د عوامو په وګړني ادب کې لیدلای شو. — د هغو په کلچر، عنعناتو او رواجونو کې!

«نوربیا»

زاېلي

د شاعر وړمه

ای د شنه آسمان په شنه کاسه کې ځلېدونکيو ستورو!

ای د آسمان د جبین ښکلې پېغلی، ای سپوږمۍ!

ای د لمر طلائي وړانگو!

ای د طبیعت جادوگرو جلوو!

ای د حسن د باغ ارم ښاپېرو!

ای د ښایست د وطن رنگونو، عطرونو او گلونو!

زه شاعر وم، زما کلام د حسن، ښایست او جمال ستاینکی و،
خو ما ښایست ونه ستایلو.

ما گلونه، چمنونه، رنگونه او عطرونه ونه ستایل.

ای سپوږمۍ! ما ستا تر روح پالونکو پلوشو لاندې د چا
د روڼ جبین ساحري ښکلا ته غزل ونه لیکله!

ما د پا ولیو شی ننگهار د خپلو نخمو په رنگونو نه دی گډ کړی،
ما د اوربل جادوگر حسن نه دی ستایلی، زه د باړخوگانو سور
ښایست تر انو ته نه یم ځوړلی.

ای د لمر طلایي وړانگو تاسې شاهدې یاست، کله به چې
ستاسې زړه زړي فرش زما د کوړکلي پر بخملي غولي خپور شو،

حسن او ښکلا به یاغي شوه او وږمې به په څپو شي.

زما د ښکلي هېواد په هر چمن او ګلشن کې به د ګلونو او عطرونو وږمې ځالونې! زما د هېواد مستو سیندونو به له خپل ځګن شور او ځوږ سره غړونه په مستۍ راوستل.

زما د هېواد هره ننداره د حسن په نغمو او د ښایست په ترانو ارزېده.

زما جنتي ټاټوبی د طبیعي ترانو ټاټوبی وُ،

دیوه شپون د شپېلۍ شغ له هر ران نغمو څخه خوندوره وُ او دیوه اوښبه او یوه لېږ به ماښامنۍ غاړې، د تورو کاڼو زړونه هم د خوښۍ او خوشالۍ رقص او نڅا ته هڅول.

خو ما سندره ونه ویله،

نه شاعر وم ، خو د حسن ترانه مې ونه لیکله،

نه شاعر وم، خو د ښکلا جادوګرو او کوډګرو جلوو په ما چېرې هم مستانه غزلې ونه لیکلې.

حال دا چې، زما په کور کې سوله وه، او ورسره ورسره رنګیني هم.

زما هېواد د طبیعي ښکلا جنت وُ، ما باید د شنو د ښتو په لمنو کې د هوسیو له منډو، د زرکو له نارو، د بلبلانو له نغمو او د یوراګانو له سندرو څخه د مینې الهام اخیستی وای او د – سرور او مستۍ سندرې مې ویلای وای.

خو ما سندره ونه ویله!

نه شاعر وم، ما په غزل کې سرو شونډو ته عکس جوړ نه کړ،

نه شاعر وم، خو زما په سندرو کې د پاولیو شرنګهار ځای نه شو.

زما په ترانو کې جامونه و نه کړنګېدل، زما په فن پارو کې، امېلو نو خپل تصویر ځای نه کړ، زما په لیکنو کې اوربلونه یاد نشول، زما قلم چېرته هم د طبعت د سکلا مداح نشو.

هو! زه شاعر وم، ما هم زړه درلود، زما احساسات او عواطف هم د انسان عواطف وو، د یو حساس انسان، د یو انګېرونکي انسان، د یوه با درکه انسان عواطف.

ما خپلې د خوشبیو او خوشالیو ورځې او شپې له نورو سره د هغوی په غمونو کې شریکې کړې، ما د خپل جنتي وطن ګلونه او رنګونه هېر کړل.

ما د نورو د پرهرونو او زخمونو سندرې ویلې، ما د خپل وطن د معطرو وږمو د ستاینې پرځای د نورو په کور او کلي کې د جنګ د لمبو او لوګیو له پاره د حسن نغمه د وير په نغمه بدله کړه.

ما د ښایست د ستاینې پرځای د نورو په وطن کې خپلې سندرې د جنګ، ظلم، ناروا، بربریت او استبداد د غندنې په سندرو بدلې کړې.

ای د فلسطین شاعره!

مګر تاته نه دي ياد، چې ما ستاد پرهرونو او زخمونو له پاره خپل قلم او چت کړی او له تاسره مې ستا پر وطن، کور، او کلي او ښارونو باندې د غاصب صهيونيزم د عندلې فن پارې تخليقولې .

مګر تاته نه دي ياد چې ما د خپل ځلميتوب مستانه دوران له تاسره ستا په غمونو او درد و نو کې لغړن تېر کړی.

ای د الجزاير شاعره !

مګر زه ستا په غمونو کې نه يم شريک شوی، مګر ما له تاسره د فرانسوي سنګيلاک پر ضد، ستا د خلکو د حماسو ستاينه نه ده کړې .

ما ستاد توري سرو پر کونه تونو نه دي ژړلي، ما ستاد يتيم له انګولا سره د وير ژړا نه ده کړې، ما ستا د حق دلاسته راوړلو له پاره د ظالم پر ضد د غندنې چيغه نه ده پورته کړې .

حال دا چې، ما هم کولای شول بې غمه باش واوسيږم او ويلي مې وای چې : له عالمه سره غم نه غمه « پر دی غم تر واورو سوړ دی » . خو، نه ! ما هسې نه دي کړي .

ای د افريقا شاعره !

تاته نه دي ياد چې ما به د نرمو سروشونډو پر ځای ستا پر پيښو او پنډو شونډو باندې د غمونو او ناورين تور کودري ستايل او ستا له او سکو څخه به مې د نغمو بهير جوړاوه .

خدای (ج) حاضر دی ما خپل سرور او فرحت هېر کړی ؤ،
او له تاسره مې د سپین پوستو ناروا او نادودو ته بدرد
ویل.

او ای دو یتنام شاعره!

نه تا ته هم خطاب کوم:

خیر که نن ته له یوه لبوه ځغه د خلاصون په امید د بل
لبوه خولې ته ولوېدې، خو ما ستا بدې مرحې له تاسره ژړلي
دي، ما ستا د خلکو پر ټېږ پو ستکی باندې د امریکایي بارو تو
تورو داغونو ته بد ویلي دي، او د آن ادعه له پاره مې ستا
د خلکو بهیر د ستاینې په نغمو بدرګه کړی دی.

او ای د آسیا، افریقا او لاتیني امریکا شاعرانو!

مګر زما نغمو، سندرو، بوللو او غزلو ستاسو د ویرونو
او دردونو بهیر په اوښکو او ساندو نه دی بدرګه کړی؟

ما له تاسو سره ډېر ژړلي دي.

ما حُسن پرې ایښی ؤ، ما جمال نه ستایلو، ما اوربلونه، ما یادول
ما ګلونه او عطرونه هېر کړي وو، ما د سرور او خوشالۍ
غزلې او بوللې پرې ایښې وې!

ما له تاسو سره ژړل، زه له تاسو سره کړېدلم.

خو!

هوکې! نن چې زما کور، او کلی، زما وطن او چمن،
زما ګلونه او بهارونه، زما غرونه او رغونه، زما سیندونه—

او ځمو بې ، زما سپا ییستونه او سپکلاوې د غاصب او متجاوز کونګه
د پا رو نو او او ر و نو په لمبو کې سره رانغاړلي دي ، زه مو
ولې ، هیر کړي یم ؟!!

زما د شهید سره زخمونه مو ولې هیر دي ؟! تاسې ولې د ګلونو
په ځای زما د زخمونو عکسونو او تصویرونو ته په خپلو نغمو
کې ځای نه ور کوئ ؟! تاسو ولې زما دوطن مظلوم یتیم او سپکو
ته اعتنا نه کوئ ؟!

ای شاعرانو او لیکوالو !

شاعر دانسانیت مداح وي ، شعر دعواطفو زیږنده وي
دشاعر زړه نازک وي او له خوا اخوږ یو ډک !

نو خپلو نغمو او سندرو نه ، خپلو غزلو او بوللوته ، خپلو ترانو
او فن پا رو ته زما د مظلوم وطن ، د مظلوم انسان د زخمونو
رنګ ورکړئ !

دانسانیت په نوم ، دانسان په ننګ ودرېږئ ، د آزادۍ دتقدس
په نوم ، زما د خلکو له خپلواک تاریخي مارش سره ملګرتیا وکړئ !
له مونږ سره ملګري شئ ، زمونږ د زلزلو ملاتړ وکړئ ،
مونږ به د عصر معاصر سره زنځیرونه د پړول محکوم بشریت د
نیک شګون په نیت مات کړو !

زمونږ وېر و نه پخپلو ترانو کې و نغاړئ !
زه هم شاعر یم ، ما مه هېروئ !!!

شعراوهنر
دانقلاب په
تگ لوری کی

ترانه

بحضورِ مجاهدین افغانستان

چشمِ تُست بابصر! تیغ تُست حق نگر !!
دینِ تو، ترا سپر، بی خطر، بهر خطر!
هر غروب و هر سحر! با هزارها محن !!
خوش گمان و خنده زن !

سودِ تو، زیانِ تو، هردم امتحانِ تو!
هر زمان زمانِ تو ! شانِ تو، نشانِ تو!
جانفزا اذانِ تو ! دلبرِ هر انجمن !!!
از تو عظمتِ وطن !!

شانِ کشت زارِ تو! آنِ کوهسارِ تو !!
جانِ مرغزارِ تو رونقِ دیارِ تو !!!
روحِ کارزارِ تو !! مرگِ لشکرِ فتن !!
حق پرست، بُت شکن

با وجود هر ستم !! گردنِ تو شد نه خم !
خوف از تو کرده رم ! تو شجاع ذی همم !
تیر تست، تیشه دم در نبرد اهرمن !!
بهر دفع زصد زمن !

صبح جیبها درید مهر تیغ خون کشید !
لاله چارسو دمید ! باد نعره زن وزید
طبل حشر آفرید ! عرض شد کفن کفن !!
ارمغان جان و تن

شعله رانشانه ها ! شاخها، جوانه ها !
سوخت آشیانه ها توده توده خانه ها !
خانمان فسانه ها، کار کفر پُر فتن !
محشر است خیمه زن

قتل و غارت اندرون مرگ در کمین برون !!!
از قضا، بلا، فزون در غبار، بوی خون !
ره گم است و رهنمون خونچکان رخ چمن !
سرخ پوش نارون

پاسخت نوید شد روس را وعید شد !
مصلحت پدید شد ضرب تو شدید شد !
فتح را کلید شد صبح فتح ضوفگن !
شاد شد دل زمن !!

از تو عز و شان ما زان تو زمان ما !!!
تیر خوش کمان ما ! حصن و پاسبان ما !
برتر از گمان ما ! بهر طفل و مرد و زن
از برای مادمن !!

یار همدگر شوید ! تا به حق خود رسید !
دستِ جور بشکنید ! جیبِ ظلم بردرید !
پرچمش نگون کنید ! تا وطن شود وطن ! !

ای سپاه صف‌شکن

یک زدند بیش بس ، نادِ فتح هر نفس !
سرکشد نه زین سپس ! هیچ اژدرِ هوس ! !
جور را برد چو خس ! موجِ ضربتِ تهمتن !

بهر کفر بیخ‌کَن !

موشکِ تو ارجمند ! محشر نوی فگند ! !
دشمنان ، همی دوند ، همچو موش می خزند !
از هراست وازجند شد بچاه ، چاه‌کن !

حکم ربِ ذوالمنن

الحاج دردمند

که پوهېږې!

د وطن د لوړتیا سپر یم که پوهېږې!
ستا د مرګ تېره خنجر یم که پوهېږې!

لاس دې مینځه له ژوندون نه میدان پرېږده
رعد-تندر ستا په سر یم که پوهېږې!

مالوستلي حقایق د عشق کتاب کې
غږ د "الله اکبر" یم که پوهېږې!

چې رنا یې سلامي ورځي مزار ته
زه هغه زخمي ټټر یم که پوهېږې!

د برېښنا په منظره کې مې ژوندون دی
خاص د تورې شپې سحر یم که پوهېږې!

فرښتې چې یې را درومي جنازې ته
نه هغه شهید بشر یم که پوهېږې!

د «کنړ» د سیند غورځنګ یمه دهري ته
مطمئن په دې اش یم که پوهېږې!

خلق «پرچمه»! کمونست ته چې وروایې
مرتد شوی سور کافر یې که پوهېږې

ته اسلام ته استعمار وایې مرتده!
شوناتو نه منکر یې که پوهېږې!

نیم بسمل د خولې نغمه ده «دردمند» وایي
په کالکوالي کې لوی غر یم که پوهېږې!

امان الله «ساهو»

اې زما ګرانه وطنه

چې ګلونه غوړېدلي د «آبدان» په شنه ورشوې
وريې اومبړې چې وي پنډې اوهې، هې يې دشپنوې
چې بيا تورې کښې دې پانې په د سپتونو په رغوې

نه به ونسيم په دواړو لاسو ستا پاکه لمنه
اې زما ګرانه وطنه !
اې زما ګرانه وطنه !

* * *

د «پامير» له د نګو څوکو چې «کوکچه» شي روانه
په مستۍ او په تېزيو نو لکه زرکه خرامانه
د «آمو» د زړه د نيا کښې په موجونو ورو دانه

چې څپې يې توپاني شي بدل واخلي له دښمنه
اې زما ګرانه وطنه !
اې زما ګرانه وطنه !

* * *

چې تیارې خورې ورې شي، رڼښکاره چې سباوون شي
دوطن د لیلا وصل په نصیب دخپل مجنون شي
چې دظلم څلي وران او لات منات يې سرنګون شي

انتقام چې ین دان واخلي یو ځل بیا له اهرمنه
ای زما گرانه وطنه!
ای زما گرانه وطنه!

* * *

د غه خوار و زار اولس چې بیا پخپل کور کې بسیا شي
چې د حق توره د ښمن ته جوړه تند راو برېښناشي
دا د ن ورځې یتیم چې سا تندوی ستا د سبا شي

د خپلواک ژوندانه زېرے به راځي له دښت دمنه
ای زما گرانه وطنه!
ای زما گرانه وطنه!

اکبر خان

ښه ده!

چې پرې د حق اظهار کولای شم
زه به پرې يکړې مې له موندنه ښه ده!

په خپل وطن چې مسافر ګرځمه
د ژوندون له لارې مې ژړلنه ښه ده

چې نه جاله دي نه کښتۍ وي پکې
د داسې سيند نه خپله ډوبنه ښه ده

د بل چمن کې سروه څه کړمه نه
په خپل انګړ کې جارو وهنه ښه ده

چې تل د بل په توره ژوند تېر وي
د داسې مرد نه ښځه کونه ښه ده

هغه اولاد چې دې پکار را ننشي
سړی میراث سنجۀ تری شنړه سبه ده

د سنجې ستر بس حیا ده حیا
چې حیا نه لري بس بنړه سبه ده

شعر او سخن چې د قانون شي پابند
قلم توټې او خوله تړې بنده سبه ده

* * *

زما سر

زما سر به هلته خلکو زما سر وي
چې د تورو گوزار نو لره سپر وي

سر بې مه بوله لعنت ور باندې وایاست
چې د خاورې د بنمنانو ته نوکر وي

بریښن

بولله

„د فلک له چاره وخه وکړم ګوکان“
„نه مولوي هر ګل چې خاندي په بهار“

چې نسیم دي موسولې په ګلبڼ کښي
په نتوند بادېې کړي له واره تار په تار

مانیګریې په بڼله سوری - سوري کړي
چې وي پرخې تانه کړي په سهار

ښکلی مخ یې بوډا نه وي لاسنګل کړي
نه وي کړی لا بلبلو پرې چغار -

یو په یو یې د خزان په رحم ورکړي
په سړو سړ کړي د سېلیو توند ګوزار

جهاو کړي په لاسونو د قدرت وي
لاله زار کاندي بدل په خس وخار

د ماشوم غونډۍ په «هست» او یو د «کمې لوبې
تار و پود د «هست» نابود کړي په مدار

یو ځل نه دی، دوه ځل نه دی، درې ځل نه دي
څو چې دی، دی - د دې لوبې دي تکرار

هر ورځ نوي ګلان په اوبو بیوسي
په هر وخت کې نوې - نوې کاندي چار

لاس دې مات شه، ای فلکه! ستمګاره
چې هېڅکله دې پر ښنبو د وکرار

په «سکندر» او په «چنګیز» مو دې ملک وران کړ
بیا انګریز دې کړ تېر یو ته تیار

اوس دې سره وبا په موږ کې را نازله
له شماله دې را تېر کړ سور ښامار

د چنګېز «خونړيو» ولولې په وينو
د «خلقيانو» بې جلبه اقتدار

د زلمو سينې يې سمې کړې ستو پوته
پرې يې جوړ کړ د بمونو دړنهار

د ګولو ږلځې يې هر خوا ورولې
ز او ښځې يې سپرې توپې کړل انبار

د ږو واړه-زاړه لښند پخپل وينو
د روسي ميګ الوتکو په بمبار

د وطن په هره برخه، هره خوا کې
دي د شو بلو، د ټانکونو غورمبهار

زانيول دي، ځملول دي، قتلول دي
په سرو وينو لړل شوي هر ديار

د ځوانانو کوټې-کوټې په شپلو کې
په لاشونو يې ښکار غاځ کتار کتار

چې تباه دي ټول د دې خاورې ژامن دي
کليوال دي، که عسکر، که منصبدار

سترګو ته اړې ! په سرو وينو او سنګې پرېږدئ !
دي دا پيښې د ژړا او د خونبار

وطن لوټه-لوټه، کلي - کلي وران شو
آسماني تندر نازل شو په هر سنبار

"نورستان" تورو لوخړو کې لمبه شو
د "کنړ" کور ونه شول سره هوار

"بريکوټ" د خاورو کوټ شو په لحظه کې
دوږغ دي کله "چغسرای" دی که "اسمار"

په "نينګلام" کې د سنګ لاړم دی ستهل شوی
په "شيګل" شګې سرې دي په انګار

که "مومند" دي، که "کامه" که "خوږياڼي" دي
که "ګوشته" که "حصارک" د "ننګرهار"

ټول بمونو او ټانکـونو هوار کړي
چلېدلي پرې توپونه، ماشیندار

د «لغمان» د «دولت شاه» سینه غلبیل شوه
پاتې نه شو «الیشنګ» او «السینګار»

په «تګاب» او په «پنجشیر» لړې خورې شوې
خزان شوي دي «پروان» او «ګلبهار»

په «سالنګ» ـ «پلخمري» کې دوړې وینم
شول له خاورو سره سم د ژوند آثار

پاخېدلي د غلیم په مقابل کې
«بدخشان»، «سمنګان» دي که «مزار»

په «بادغیس» په «میمنه» کې درزهار دئ
په «هرات» کې دی د وینو شنهار

په «فراه» کې فرحت نشته د و ګرمو
«غور» له غمه بیا پټ شوی په غبار

په «هلمند» کې هیلي خاور وکهلي ځناوري
«پنجوائی» او «ارغنداب» کې دي ناتار

په «بولدک» بولک - بولک وربځې راغلي
بې آرامه دي، له دوکه کندهار «

په «پېرنګان» کې روزګار سخت سنګاري دخلکو
په «تیرین» «کې تیرې مات شول دغدار

په «کلات» کې، په «شینکي» کې، په «مرغه» کې
په «سورغر» کې بیا اور بل دی دوامدار

په «مُقر» کې مقر ورک شو د «ستره کی»
«قره باغ» دی په جنګونو کې ایسار

د «اورګون» ځمکه اور ګونې شوه په اور کې
په «برنه «وانه خوا» دی تکهار

«غرجستان» غرونه په شنو دوړو کې پټ دي
«شهرستان» او «مالستان» دی عزادار

په «غزني» او په «باميانو» کې اور بل دے
سره د «مُحکه د پور دګو»، د خروان -

په «لوګر» کې، په «ږرمت» کې، په «ګردېز» کې
په «ځاځيو»، «سيد کرم» دي تس سهان

سته وو ته د «ستهو په کندو»، کې
په «تېر» کې ستبرى شنه شو وار په وار

د دښمن قوي قواوې کړې شکوړې
د «خُدرانو» توريالیو په ايثار

په «کابل» کې هم اور بل د انتقام دى
پايمال شوى «چنداول» او «پاى منار»

دادا اور بلې لمبې يې چې کړې بلې
ناهتو لمبې يې کړې لمبه به يې درسان

د ملى قهر توپان به يې توپان کړې
داچې دي د بل مرندون، نموږ بادان

څوك چې اوس بلوې سوځي به پرې خپله
دافلكځ دی، دايې دود،دی، دايې كار

سو رخز ان دسرو لمبو په ستېر پېموي
زانش دی دی دافغان ولس بهار

۱۳۵۸/۵/٤

Jehad Palwashah Monthl

Editor : Esmat Qani

Published By :

Southwest Provinces of Afghanistan

G.P.O. Box 345 Peshawar, Pakistan

دجهاد پلوشه

د امتیاز خاوند
افغانستان د اسلامي
جمعیت د جنوب غربي ولایاتو
فرهنگي شورا
مسئول مدير
عصمت قانع
پستي ادرس
پیښور پاکستان
پست بکس نمبر ۳۴۵

Jehad Palwashah Monthly

Vol. 1 No. 4 - 5

په کندهارکی د جوزا د میاشتی د مقاومت نومیالی قهرمان . ملانقیب الله